ولایت
۴ مخ

مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د وري ۳۱مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۱مه | ۵۹۷یمه گڼه

## تخار

په دغه ولایت کې له ۲۲ زیات ورزشي فدراسیونونه شته، چې ورزشکارانو یې له څو کلونو راهیسې په کورنیو او بهرنیو سیالیو کې اتلولی، د سرو، سپینو زرو او برونزو مډالونه تر لاسه کړي دي.



## چین له وروستیو سیلاب ځپلو افغانانو سره د ۵۵۰ میلیونو افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته کوي




چین په افغانستان کې د وروستیو طبیعي پېښو له زیانمنو کسانو سره د ۵۵۰ میلیونو په ارزښت د څه باندې پنځه زره ټنه خوراکي توکو مرسته کوي. د یادې مرستې هوکړه‌لیک تېره ورځ پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزیر غلام بهاءالدین جیلاني او په افغانستان کې د چین ولسي جمهوریت د سفیر وانګ یو ترمنځ لاسلیک شو چې له مخې به یې د وروستیو طبیعي پېښو له زیانمنو سره ۵۲۶۶ ټنه مرسته کېږي. پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزیر د دغه تړون د لاسلیک د مراسمو پر مهال وویل، د یادې مرستې ۱۲۸۴ ټنه برخه غنم او ۳۹۸۲ ټنه یې چینایي وریجې جوړوي او ټولیز ارزښت یې ۵۵۰ میلیونه افغانیو ته رسېږي. نوموړي زیاته کړه، د چین تازه مرستې، چې د لېږد بهیر یې له چین څخه افغانستان ته پیل شوی، دلته رارسېدو رسم به ټول هېواد ته ولېږل شي او د طبیعي پېښو پر زیانمنو به ووېشل شي.

# د جګړې د دوام وېره؛

## ناټو: د طالبانو مالي او نظامي بسیاینه به جګړه اوږده او سوله له خنډ سره مخ کړي


© Reuters/E. Novozhenina

۳

### د سولې په اړه په دریځونو او ذهنیت کې ستونزه

۲ مخ

### له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه

۲ مخ

### وضعیت اقتصادی جهان پس از وبای کرونا

۳ مخ

## د بشري حقونو کمېسیون: د سولې له خبرو سره هممهاله د تاوتریخوالي دوام د اندېښنې وړ دی

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي، د تاوتریخوالي زیاتېدل، په قطر کې د سولې خبرې زیانمنولای شي. دغه اندېښنه داسې مهال ښودل کېږي چې په دوحه کې د سولې بین الافغاني خبرو له پیل سره هممهاله د هېواد په ګڼو ولایتونو کې جګړې او نښتې ډېرې شوې دي.

د بشري حقونو کمېسیون وایي، د سولې له خبرو سره هممهاله د تاوتریخوالي دوام د اندېښنې وړ دی او دا خبرې زیانمنولی شي. د دغه کمېسیون د نشراتو مشر ذبیح الله فرهنګ ازادي راډیو ته ویلي چې ښکېلې ډلې دې د تاوتریخوالي کموالي ته کار وکړي.

هغه زیاته کړې: «که څه هم بین الافغاني خبرې پیل شوي دي، خو تاوتریخوالی لا هم ادامه لري، دا د اندېښنې وړ دی، موږ له دواړو اړخونو غواړو چې د تاوتریخوالي د کمېدو په اړه باید اساسي ګامونه پورته کړي.» دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې پر کندز، پکتیکا، پکتیا او بلخ ولایتونو سربېره، د هېواد په نورو سیمو کې هم نښتې او او تاوتریخوالي زور اخیستی دی.

د پکتیکا او کندز پېښې خونړۍ یادې شوې، د پکتیکا امنیه قوماندانۍ ویاند شا محمد ارین وایي، چې د جاني خېلو په ولسوالۍ کې پر یوه تراکتور چې ورا یې لېږدوله، چاودني شل تنه ټپیان کړي چې ډېری یې ښځې او ماشومان وو. د تاوتریخوالي دا پېښې داسې مهال رامنځته شوې چې په قطر کې د افغان دولت او طالبانو استازي هڅه کوي چې دې جګړې ته پای ورکړي.

## خلیلزاد: د بین الافغاني خبرو پیل بې ساری فرصت دی، باید ضایع نه شي



۲ مخ

## باشنده‌های پروان: معادن سنگ کرومایت بگونه غیرقانونی استخراج می‌شود



استخراج سنگ گرانب‌های کرومایت در ولسوالی کوه صافی جنجال برانگیز شده است. شماری از مردم گفته‌اند که افراد زورمند در استخراج این معدن دست دارند. یک معدن ده سال پیش در روستای «آخوندزادگان» کشف شد و استخراج غیرقانونی آن آغاز شد.

حاجی ولی‌الله از بزرگان قومی در ولسوالی کوه صافی ولایت پروان می گوید اکنون این معدن از سوی یک زورمند استخراج می‌شود: «در قریه آخندزادگان ولسوالی کوه صافی کار را شروع کردند، به طور قاچاق. اسناد ندارند که باید مطابق اسناد معدن را استخراج کنند. بعد از این هر کاری که انجام می‌دهند، مردم کوه صافی در مقابل‌شان ایستادگی می کنند. به لحاظ خدا، این معدن کرومیت را به طور غیرقانونی استخراج و دزدی نکنید.» منتقدان و شاکیان محلی در مورد هویت شخص زورمندی که به استخراج غیر قانونی معدن کرومایت در این ولسوالی از سوی آنها متهم شناخته می‌شود توضیح نمی‌دهند.

عبدالاحد حسرت، رئیس اداره معدن ولایت پروان به رادیو آزادی گفته است که استخراج بخش کوچکی از این معدن را با یک شرکت قرارداد کرده است: «شرکت هیواد برادران یک ساحه محدود را در ولسوالی کوه صافی که دارای کواردینات مشخص می‌باشد با قراردادی‌های معین قرارداد نموده است. فعلاً مردم محل اعتراض دارند که در ساحه غیرقانونی استخراج صورت می گیرد. ما ساحه را بررسی می کنیم می‌بینیم اگر در ساحه قراردادی باشد اجازه فعالیت برای‌شان می‌دهیم و اگر نباشد اجازه نمی‌دهیم که به فعالیت‌های خود ادامه بدهند.»

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، د جمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

# د سولې په اړه په دریځونو او ذهنیت کې ستونزه

د بیـن الافغـاني خـبرو لپاره پر اصولـو او کړنلاره بحـث دویمـې اونـۍ تـه غځېدلـی دی او لا هـم اختـلافي مسایل نـه دي حل شـوي. کـه دا توافـق وشـي، ورپسـې بـه دواړه اړخونـه پـر اجنـډا بحث کـوي. داسـې ښـکاریږي چـې پر اصولـو او کړنـلاره بحـث بـه ډېـر وخـت ونیسـي او بیـا بـه ورپسـې پـر اجنـډا هم بحث لانجمن او اختـلافي وي او دواړه اړخونـه بـه ژر پایلـې ته ونـه رسـیږي.

لـه شـلو کلونـو جګـړې وروسـته دا طبیعـي ده چـې اختلافـات بـه وي، ځکـه چـې یو خـو اوږده جګـړه شـوې او بـل دواړه اړخونـه لـه ارزښـتي اړخـه هـم ډېـر متفـاوت دي، خو اصلي سـتونزه پـه طبیعـي اختلاف کې نـه ده، بلکې د سـولې پـه تـړاو د دواړو اړخونـو پـه فکـر او ذهنیـت کـې ده. طالبـان لا هـم سـولې تـه د فتحـې پـه سـترګه ګـوري او فکـر کـوي چـې د امریـکا لـه ماتـې وروسـته دوی حکومت هم په سـوله ییزو خـبرو ماتـوي او خپلـو ټولـو یا لویـې برخه موخو تـه رسـیږي. لـه همـدې املـه طالبـان قربانـۍ او یـا لـه خپلـو خـبرو څخـه تېرېدنـې تـه لـړ او یـا هـم بیخـي نـه حاضریـږي. لـه بلـه اړخـه د سـولې پـه تـړاو د حکومـت پـه دریـځ او ذهنیت کـې بنسـټیزه سـتونزه ده. سره لـه دې چـې د حکومت سـتر بهـرني ملاتړي د سـولې په خبرو سره د طالبانـو پـر وړانـدې خپله کمزوري منلې، خـو حکومـت لا هم دا واقعیت نـه مني، نو ځکه نـه یـوازې دا چـې لـه طالبانو سره پـه خبرو کې سرې کرښـې کاږي، بلکـې کلـه کلـه خـو یـې ذهنیـت یـو مخ دا وي چې سـولې تـه د طالبانو د تسـلیمۍ پـه سـترګه ګـوري. د حکومـت لپاره چـې امریکا تـرې پـه یـو ډول لاس اخیسـتی او لـه مخالفینو سره یې سـوله کـړې ده، دغه ډول دریـځ معقـول نـه ښـکاري. اوس چـې اصلـي سـتونزه پـه دریځونـو او ذهنیـت کـې ده، نـو د اختـلاف لپـاره مسـایل او جزیـات زیـات دي. همـدا اوس چـې طالبـان ټینـګار کـوي د خبرو بنسـټ دې لـه امریـکا سره شـوې هوکـړه وي او حکومـت یـې نـه منـي، دا خپلـه د سـولې پـه تـړاو پـه دریـځ او ذهنیت کې سـتونزه ده. د دې تـر څنـګ د دینـي نصوصـو د تفسـیر او تعبیـر پـه تـړاو اختـلاف د سـولې پـه تـړاو د دواړو لـورو ذهنیـت تـه ور ګرځـي.

پـه دغـه ذهنیـت چـې دواړه اړخونـه یـې لـري، سـوله ناشـونې کېـږي، یـا خـو بـه یـو لـوری یـو مـخ له خپل دریـځ څخه تېریږي او د تسـلیمۍ حالـت تـه بـه ځـي او یا بـه هـم دواړه لـوري څو ګامـه مـخ تـه راځـي او لـه ځینـو مسـایلو بـه تېرېـږي، څـو د خـبرو پیـل تـه لاره هـواره شي او بیـا بریالـۍ شي. اوس چـې د سـولې لپـاره یـو ښـه چانـس پیـدا شـوی دی، لـه امریـکا سره هوکـړه شـوې ده، بهـرني ځواکونـه وځـي، د سـولې پـه تـړاو پـه کـور دننـه او پـه نړیوالـه کچـه هـم حالـت برابـر دی او دواړه اړخونـه د خـبرو تـر مېـزه پـورې هـم تللـي دي، نـو پـه هېـڅ ډول د دې چانـس ضایـع کـول پـکار نـه دي. دواړه اړخونـه بایـد واقعیتونـه ومنـي، قربانـۍ ته حـاضر شي، انعطـاف وښـیي او د سـولې لپـاره لاره پرانیـزي. خلـک تمـه لـري چـې پـر اصولو، کړنـلاره او اجنـډا ژر توافـق وشي؛ د سـولې خـبرې ژر پیـل شي او دوی یـې ژر محسوسـه مثبتـه پایلـه ووینـي.

# له طالبانو سره د ایران د پېچلو اړیکو نوې بڼه

لیکنه: بارنټ روبین
ژباړه: زمریالی اباسین

**دویمه برخه:**

ایران هم په بُن ناسته کې د افغانستان پـه اړه ملګـرو ملتونـو تـه د خـبرو اتـرو پـه تـرخ کـې د امریـکا متحـده ایالتونـو تـه بنسـټیز او ډیپلوماټیـک ملاتـړ برابـر کړ، چېـرې چـې ډابنـز د نړیوالـو ارګانونـو لپـاره د ایـران د بهرنیـو چـارو وزارت مرسـتیال جـواد ظریـف سره اوږه په اوږه کار وکـړ. همـدا جـواد ظریـف و چـې وروسـته بیا دوه ځلې په پرله پسې توګه د ایـران د بهرنیـو چـارو وزیر وټاکل شـو. پـه بُـن ناسـته کـې چـې زه هغـه مهـال د براهیمـي سـتر سـلاکار وم، ډابنـز او ظریـف پـه ګـډه سـهارنۍ تـه راسره روان شـول، څو رانه پوښـتنه وکـړي، چې ولې ملګـرو ملتونـو د ترهګـرۍ ضـد همکاریو او ټاکنـو اړونـد تضمینونـه د توافـق پـه مسـوده کـې نـه دي شـامل کـړي، چـې بیـا پـه وروسـتۍ مسـوده کـې دواړه شـامل شول. د شـمالي ټلوالې د پلاوي لـه مـشر یونـس قانـوني سره د ظریـف شـخصي تعامـل د دې لامـل شـو چـې د موقـت حکومـت رامنـځ ته کولـو په اړه وروسـتۍ بیانیـه تشـکیل شي.

د خاتمـي اداري تمـه درلـوده چـې لـه امریـکا سره بـه اړیکـې پـه بشـپړه توګه و رغیـږي، خـو د ۲۰۰۲ م کال په جنوري کـې نیویـارک ټایمـز ورځپاڼـې د یـوې مقالـې پـه خپرولـو سره خـبرداری ورکړ، چـې ایـران پـه هـرات کـې د خپـل نفوذ پراخولـو هڅـې کـوي، کـټ مـټ همـدا ډول ایراني رسـنیو هـم خبر ورکړ چـې امریـکا د مکسـیکو پـه شـویداد جوارېـز کـې د خپـل نفوذ پراخولـو پـه لټـه کـې ده. د دې مقالـې لـه خپرېـدو وروسـته د یـوې اونـۍ پـه تـرخ کـې ولسـمشر جورج بـوش د خپلـې کلنـۍ وینـا پـه لـړ کـې د عـراق او شـمالي کوریـا تـر څنـګ پـر ایـران د «د شـیطانت او شرارت محـور» نـوم کېښـود. د بُـن مذاکراتـو پـه جریان کـې د ډونالـډ رامسـفلډ د دفـاع وزارت اسـتازو هڅـه کوله، څو لـه ظریف سره د ډابنـز د همـکارۍ مخـه ونیسـي، خـو پـه دې چـاره کـې د ډابنـز له کړنـو د امریکا د بهرنیـو چـارو وزیر کولین پـاول ملاتړ د دې لامل شـو چې ډابنز دې کار ته دوام ورکـړي. وروسـته بیا په واشـنګټن کې د رامسـفلډ او د ولسـمشر مرسـتیال ډیـک چینـي پـه مـشرۍ سـلاکارانو پـه ایران او عـراق کـې د رژیـم بدلولـو مفکـورې د ولسـمشر هوکـړه تـر لاسـه کړه.

دې چـارې پـه تهـران کـې غوغـا جـوړه کـړه چـې لـړزه یـې تـر اوسـه هـم محسوسـیږي. د صدام حسـین له عراق سره د ایـران پرتلـه کولـو چـې د امریـکا او سـعودي عربسـتان پـه مرسـته یـې لـه خصومـت ډکـه خونـړۍ جګـړه کـړې وه او دغـه هېـواد یـې پـه اټکلیـز ډول د یـو میلیـون انسـانانو تلفاتـو ګاللـو تـه اړ کـړی و، پـه ژوره توګـه نـه یـوازې د رژیـم خواخـوږي، بلکـې ټـول ایرانیـان توهین کـړل.

پـه تهـران کې هم د واشـنګټن په څېر د افغانسـتان د قضیې په تړاو د مقاومت او مخالفـت روحیـه حاکمه وه، خـو د بوش وینـا هغه کسـان په هېڅ برابـر کړل چې پـه دې برخـه کـې یـې همـکاري کـړې وه. ډېـرى دا اشـخاص لـه دنـدو لـرې او یـوې څنـډې تـه کـړای شـول یـا تـر دې هـم لـه بدتـر چلنـد سره مخ شـول. همـدا اشـخاص چـې د ۲۰۱۳ م کال په ټاکنـو کـې لـه حسـن روحاني وروسـته د افغانسـتان پـه اړه د ایـران د سیاسـتونو د کرښـو د تنظیموونکـو پـه توګـه پـر ځوکیـو وګومـارل شـول، لا هـم لـه دې مسـایلو سره تُنـد چلند کـوي. په ۲۰۱۴ م کال پـه اوسـلو کـې د یـوې ناسـتې په تـرخ کـې د دغو اشـخاصو لـه جملې یوه یـې راتـه وویـل: «کـه دې کار نتیجه ورنه کـړه، پـه تـا بـه هېـڅ ونشـي.»

څـو کالـه وروسـته پـه افغانسـتان کـې د امریـکا متحـده ایالتونـو د حضـور پـه هکلـه د ایـران دریځ نور هـم له خصومته ډک شـو، کـه څـه هـم دا دریـځ لا هـم د مخالفـې سـني جهـادي ترهګـرې ډلـې (کـه څـه هـم د دې توپیرونـو پـه پام کې نیولـو سره چـې څـوک د سـني جهـادي ترهګـرۍ لپـاره وړ ده، پـه ځانګـړې توګه حـماس) او د ثبـات لپـاره د ایـران اړتیـا هـم دا وه چـې لـه افغانسـتان سره پـه ګاونـډ کـې پـه ۵۴۰ کیلومـتره پولـه کې امنیـت خونـدي وي. ورپسـې امریـکا پر عـراق یرغـل وکـړ، چـې لـه هغـې ځایـه امریـکا تـه هېـڅ ډول ترهګریـز ګـواښ نـه و متوجـې او پـه دې برخـه کـې هېـڅ داسـې نښـې نښـانې نـه لیـدل کېـدې، چـې امریـکا دې لـه افغانسـتان څخـه ووځـي، خـو برعکـس هلتـه ماموریـت ناټـو تـه وسـپارل شـو او د ټـول غـربي ائتـلاف ځواکونـه یـې هلتـه ځـای پـر ځـای کـړل. یـوازې ایـران نـه، بلکـې د سـیمې ډېرو دولتونو دا پوښـتنې راپورته کـړې چـې ګنـې د امریـکا اهـداف دې یـوازې د سـني جهـادي ترهګـرۍ ضـد پر مشـترک هدف ورټولـې وي. دغه شـکونه هغـه مهـال پـر واقعیـت بـدل شـول چـې د ۲۰۰۵ م کال د مـې پـه ۲۳مـه بـوش او ولسـمشر حامد کرزي د افغانسـتان او امریـکا تـر منـځ د دوو اړخیـزو همکاریـو سـتراتیژیکه اعلامیـه لاسـلیک کـړه. پـه داسـې حـال کـې چـې پـه اعلامیـه کې راغلـي وو چـې موخه د هېـڅ دریمګړي هېـواد پـر وړانـدې د تقابـل رامنـځ تـه کولـو پـه مانـا نـه ده، خـو دا مـورد پکـې ذکـر شـوی و چـې د امریـکا متحـده ایالتونـو ځواکونـه بـه پـه افغانسـتان کې پوځـي اډو تـه لاسرسـی لـري او لـه دغـو اډو بـه د سـلا مشـورو او مخکـې لـه مخکـې توافق سره سـم د اړتیا په صورت کـې د هـر اړخیـزو پوځـي عملیاتـو اجرا کولـو لپـاره د عمـل ازادي ولـري. لومړی عبـارت د نیـت کار و، خـو دویـم یـې د صلاحیتونـو د تضمین پـه مانا و. امنیتي پـلان جوړوونکـي پـه ټولـو هېوادونو کې د هغـو صلاحیتونـو پـه تر لاسـه کولو کار کـوي، چـې کـره او د ارزونـې وړ وي، نـه نیتونـه چـې مبهـم او مجهـول وي.

متحـده ایالتونـو وار لـه مخـه پـه ۲۰۰۳ م کال کـې د یـوې سـترې معاملـې پـه اړه د خاتمـي وړاندیـز رد کـړی و او پـه افغانسـتان او عراق کې یـې د رژیمونو د بدلـون پـر پلي کولـو ټینـګار کاوه. ایران چـې ګومان کېده د لېست له مخې یې په دې پسې نوبت و، د ولسمشرۍ ټاکنو د دویـم پـړاو تـر سره کولو په درشـل کې و، چـې د سـتراتیژیکو همکاریـو اعلامیه لاسـلیک شـوه. پـه ۲۰۰۵ م کال کـې چـې کلـه محمـود احمـدي نـژاد بریالی او ولسـمشر وټاکل شـو، پـه افغانسـتان کـې د امریکایـي ځواکونـو د حضـور پـه هکلـه د ایـران چلنـد نـوې بڼـه خپله کـړه، خـو د طالبانـو پـه اړه یـې چلنـد لاهـم نـه و بـدل شـوی. احمدي نـژاد له کـرزي وغوښـتل چـې لـه امریـکا سره د سـتراتیژیکو همکاریو د اعلامیې په څېر لـه ایـران سره هـم ورتـه سـند لاسـلیک کـړي. د امریـکا د وخـت د بهرنیـو چـارو وزیـرې کانډولیـزا رایـس د دې کار مخـه ونیولـه. کلـه چـې پـه عراق کـې وضعیت لا ډېـر لـه ناوریـن سره مـخ شـو، پـه واشـنګټن کـې د رژیـم بدلولـو سـورې نـارې لا ډېرې شـوې. د ۲۰۰۷ م کال د مـې پـه ۱۱مه، ډیـک چیني ایران ته په داسـې حال کې خـبرداری ورکړ، چې د متحـده ایالتونـو اسـتازی جان سـټېنس پـه الوتکـه (چـې د میسیسـپي ایالـت د یـو برتـري غوښـتونکي سـپین پوسـتي سـناتور پـه نـوم نومول شـوې الوتکـه وه) کـې ولاړ و. هغـه وویـل، متحـده ایالات چمتـو دي چـې د ایـران د ګواښـونو پـر ضـد لـه خپلـو بحري ځواکونـو کار واخلـي. د همـدې کال پـه سـپټمبر کـې د ایـران د سپاه پاسـداران انقلاب اسلامي ځـواک نـوي قومانـدان جنرال محمـد علـي جعفـري اعـلان وکـړ، چـې تر دې وروسـته کـه امریکا پر ایـران برید وکـړ، ایـران بـه د امریکایـي ځواکونـو پـر وړانـدې ځوابیـه بریدونه وکـړي، هغه که پـه هـر ځـای کـې وي. ایراني چارواکـو تاییـد کـړه چې پـه دې کـې افغانسـتان هـم شـامل دی.

د ډیـک چینـي لـه عمـل څـو اونـۍ وروسـته، د امریـکا دفـاع وزیـر رابـرټ ګېټـس پـه کابـل کـې لـه کـرزي سره د خـبرو پـر مهال رسـنیو تـه وویـل، چې د امریکا متحـده ایالتونـه افغانسـتان کې ترهګـر ارزوي. هغـه زیاتـه کـړه، مونډنې ښـیي چـې ترهګـرې ډلـې لـه ایران وسـله والـې مرسـتې تر لاسـه کـوي، خو د هغـه پـه خـبره، تـر اوسـه لا پـه دې اړه کـره خـبره نـشي کـولای چـې د تهـران حکومـت هـم پـه دې کار کـې لاس لري او کـه نـه او لـه افغانسـتان سره پـه ګـډه پولـه کـې قاچـاق روان دی. کلـه چـې ګېټـس د جـون پـه ۱۴مـه لـه جرمني د امریکا پـر لـور روان و او نـور د کـرزي د حساسـیتونو تـر بـار لانـدې نـه و، وویـل چـې د وسـلو د قاچـاق پـه اړه د ایـران حکومـت خـبر دی. د امریـکا د بهرنیـو چـارو وزارت نومانـد نیکـولاس برنـس لـه سي ان ان سره خـبرو کـې دا تورونـه نور هـم ژور کـړل او زیاتـه یې کـړه، چې کره او د نـه انـکار وړ داسـې شـواهد پـه لاس کې لري، چې وسـلې د سپاه پاسـداران اسلامي انقـلاب ځواکونـو لخـوا لېږدول کېـږي. پـه سـپټمبر کې لـه هغه وروسـته چـې جـنرال جعفري خپلـه نوې پالیسـي اعـلان کـړې وه، د امریـکا د پـوځ مرکزي قومانـدانۍ قومانـدان ویلیـم فالـون رسـنیو تـه په کابل کې وویـل، چې ایران پـه روښـانه توګه په افغانسـتان کې وسـله والـو ته اکمالات کوي، چې پـه دې کې هغـه تخنیکي او لوژیسـتیکي مرسـته هم شـامله ده چـې پـه عملي کېـدو سره یې داسـې چاودنـې هـم رامنـځ تـه کېـږي، چـې لـه املـه یـې پـه عراق کـې امریکایي ځواکونـو تـه درانـه زیانونـه اړولـي دي.

**دوام لري...**

## خلیلزاد: د بین الافغاني خبرو پیل بې ساری فرصت دی، باید ضایع نه شي



د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي د بین الافغاني خبرو پیلېدل د افغانستان لپاره یوه بې سارې شېبه بللې ده. خلیلزاد د بین الافغاني مذاکراتو په اړه د امنیت شورا اعلامیې ته په اشارې ویلي چې د مذاکراتو له لارې په افغانستان کې د سیاسي جوړ جاړي او سولې بهیر څخه پراخ نړیوال ملاتړ وجود ولري.

هغه یوځل بیا ټینګار کړی چې له دغه فرصت څخه باید ګټه واخیستل شي. دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د تېرې جمعې په ورځ په دوحه کې د افغان سولې په اړه د بین الافغاني مذاکراتو د پیلېدو هر کلی وکړ، خو د دې ترڅنګ په یاده اعلامیه کې د افغانستان پر حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي ټینګار هم شوی دی.

خلیلزاد زیاته کړې چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ رواني خبرې هغه څه دي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په اعلامیه کې غوښتنه شوې وه.

خلیلزاد د بین الافغاني مذاکراتو په اړه د امنیت شورا له اعلامیې څخه د هر کلي ترڅنګ ویلي چې د امنیت شورا اعلامیه د هغې لارې ملاتړ کوي چې لوري اوس ورباندې کار کوي.

د یادونې ده چې د سولې بین الافغاني خبرې د تېرې اونۍ د شنبې په ورځ په دوحه کې پیل شوې چې د امریکا د متحده ایالاتو، امنیت شورا، اروپایي ټولنې، ناټو، د اسلامي هېوادونو د همکاریو سازمان او ګڼو هېوادونو یې هر کلی وکړ.

په ورته وخت کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګران هېواد ویلي، افغان دولت د تلپاتې سولې راوستو ته ژمن دی چې د یوې هر اړخیزې پروسې له لارې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت وشي او د یو دایمي او جامع اوربند لامل وګرځي.

هغه زیاته کړې: «د افغانستان اسلامي جمهوریت او د بهرنیو چارو وزارت د ملګرو ملتونو امنیت شورا غړیو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان جمهوري دولت سولې ته ژمن دی او د افغانانو په مشرۍ او رهبرۍ د سولې بهیر د بریا لپاره خپلې ټولې هڅې کوي.»

# وضعیت اقتصادی جهان پس از وبای کرونا

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

**قسمت اخر:**

**فقر و بیماری**

آنتونیو گوترش، دبیرکل سازمان ملل متحد هشدار داد که با وجود پیشرفت های علمی و فناوری، شیوع کرونا جهان را با بحران شدید و کم سابقه ای روبرو کرده است.

آقای گوترش که در یک مجمع مالی در نیویارک سخن می گفت، به شرح آسیب های جهانی شیوع کرونا پرداخت و گفت، یک گرسنگی و قحطی تاریخی روی خواهد داد و ٦٠ میلیون نفر دیگر نیز به جمعیت شدیداً فقیر جهان خواهند شد که نیمی از آنها را نیروی کار جهانی تشکیل می دهند.

او افزود: «۱ میلیارد و ٦٠٠ میلیون نفر منبعی برای تامین معیشت خود نخواهد داشت و ۸.۵ تریلیون دلار نیز در بخش تولید جهانی از دست خواهد رفت. این شدیدترین بحران اقتصادی از زمان رکود بزرگ دهه ۳۰ خواهد بود. باید از روی دادن این واقعه اجتناب کنیم.»

محدودیت های اجتماعی وضع شده در سراسر جهان با هدف جلوگیری از ابتلای بیشتر مردم، باعث تعطیلی فعالیت های اقتصادی و نهایتاً تهدید جهان با یک بحران اقتصادی کم سابقه شده است.

سازمان بین المللی کار نیز گزارش داده است که از زمان آغاز شیوع کرونا، یک ششم از جمعیت جوان جهان دست از کار کشیده اند.

یک مطالعه جدید هشدار داده است که نیم میلیارد نفر در خطر مشکلات اقتصادی قرار دارند. بر اساس این بررسی، سطح فقر در کشورهای در حال توسعه تا ۳۰ سال به عقب باز می گردد.

اندی سامنر، استاد توسعه بین المللی در کینگز کالج لندن، هشدار داد که «سونامی فقر» در راه است و تأثیرات آن بسیار ویران کننده خواهد بود. سامنر گفت: «کرونا میتواند منجر به افزایش بسیار زیاد فقر جهانی شود، در حقیقت می تواند حد اقل ۱۰ سال دنیا را به عقب برگرداند و در برخی از مناطق نیز اقتصاد را تا ۳۰ سال تنزل دهد.»

سازمان بین المللی امداد رسانی (آکسفام) هشدار داده که به زودی ۵۰۰ میلیون نفر به جمعیت فقیر دنیا اضافه خواهند شد و تمام تلاش های ۳ سال اخیر برای مقابله با فقر و گرسنگی بر باد خواهد رفت.

به هر حال، نظر به تخمین های که زده شده است، بیشترین تأثیرات احتمالاً در جنوب آسیا و کشورهای جنوب صحرای آفریقا وجود خواهد داشت، جایی که ۸۰٪ از افراد، اخیراً فقیر شده اند. آسیای شرقی میزبان سهم بالاتری خواهد بود و ۴۰ ٪ از فقرای تازه وارد در این کشورها جای دارند.

**افزایش گرسنگان در جهان**

سازمان ملل متحد هشدار داده است که شیوع ویروس کرونا می تواند تعداد گرسنگان در جهان را دو برابر کند. برنامه جهانی غذا وابسته به سازمان ملل متحد در گزارش خود گفته است که همه گیری ویروس پیامدهای فاجعه‌بار برای میلیون‌ها نفری خواهد داشت که پیش از این هم به نان شب شان محتاج بودند و فقط در صورتی گرسنه نمی مانند که درآمد روزانه داشته‌باشند.

این گزارش هشدار داده است که شمار کسانی که از گرسنگی رنج می برند، از ۱۳۵ میلیون نفری در سال گذشته میلادی به بیش از ۲۵۰ میلیون نفر خواهد رسید.

کشورهای مانند یمن، سوریه، افغانستان و ونزوئلا که با جنگ و بحران های اقتصادی روبرو هستند، بیشترین آسیب را می بینند.

**نتیجه گیری**

گسترش ویروس کرونا پیامدهای مخرب بسیاری بر حوزه اقتصادی کشورها و اقتصاد جهانی به همراه داشت و یقیناً چنین آثاری به مرور زمان منجر به تغییرات اساسی در سیستم اقتصاد جهانی خواهد شد. بسیاری از کشورها که تا کنون اتکای زیادی به روندها و ساختارهای بین المللی داشتند، با مشاهده ضعف این ساختارها ممکن است با اتخاذ سیاست هایی این وابستگی را کاهش دهند. ولی به هر حال حفظ روحیه وحدت بین المللی که در بیش از ۵۰ سال گذشته دوام داشته، اکنون در دست رهبران جهانی است. ممکن است آنها محدودیت های حمایت از تولید داخلی را تحت عنوان خودکفایی به تجارت تحمیل کنند و به بهانه بهداشت عمومی مانع از رفت و آمد آزادانه افراد شوند. پس در نتیجه باید توازنی میان جهانی شدن و خود کفایی برقرار گردد.

همچنان برنده نهایی رقابت بین قدرت‌های بزرگ در رهبری مبارزه با این بحران، جایگاه بسیار مهمی در دوره پسا کرونا خواهد داشت. نحوه برخورد با این ویروس در سطح کشور و میزان توجه به شهروندان، به احتمال بیشتری جایگاه کشورها را هم در سطح بین المللی و هم در سطح داخلی تعین می نمایند. حکومت ها یا نگاه ها را به طرف خود جلب می نمایند و یا از قدرت برکنار می شوند. پس نحوه اتخاذ سیاست بر اقتصاد کشورها تاثیر گذاشته و سایر بخش ها بر اساس آن تعامل می شود. حال با نگاه به نحوه عملکرد کشورهای چون آمریکا، روسیه، چین، آلمان و بریتانیا در می یابیم که در آینده از چه میزان محبوبیت در میان شهروندان داخلی و در سطح بین المللی برخوردار می شوند.

از سوی دیگر، کشورهای روبه رشد به طور ویژه کشورهای تک محصولی و وارداتی صدمه‌ی بیشتری از این بحران می بینند. این کشورها چون به لحاظ ساختار و پایه های اقتصادی ضعیف هستند، این ضعف در همه‌ای عرصه ها خود را بازتاب می دهد که موجب تشدید بیکاری،فقر، گرسنگی،آلودگی محیط زیستی، شیوع بیشتر بیماری، وابستگی شدید و بدیهی دولت‌ها شدند.

از همین رو، وضعیت اقتصادی آینده جهان مربوط به کیفیت همکاری بین دولت‌هاست. هرگاه اگر این همکاری به نحو شایسته‌ای صورت گیرد و همه کشورها را فعال سازد، احتمال بیرون رفت از این بحران وجود دارد.

البته دولت‌ها نیز باید بنیادهای اقتصادی کشورهای خود را و در کنار آن ضعف‌های ساختار اقتصاد جهانی را در نظر گیرند تا اصلاحاتی در آن زمینه به وجود آید.

جهان ما با چالش بزرگی روبروست، اما اگر همبستگی جهانی را در پیش بیگیریم، می توانیم از آن عبور کنیم. کشورهای جهان میتوانند در چارچوب سازمان ملل متحد با تشکیل جلسات اضطراری و فوق العاده، فرصت مهمی را برای رهبران جهان مهیا می سازد، تا دریک بسته مشترک نجات اقتصادی برای محافظت از آسیب پذیرترین مردم جهان، همکاری‌نمایند.

**پایان**

# د جگړې د دوام وېره؛

## ناټو: د طالبانو مالي او نظامي بسیاینه به جگړه اوږده او سوله له خنډ سره مخ کړي



طالبان هغه ډله چې تر دې دمه یې د سیمې هېوادونه ملاتړي بلل کېدل، خو اوس تازه د ناټو یو راپور ښیي چې دوی مالي او نظامي استقلال ته په رسېدو دي. د ناټو یو محرم راپور ښیي چې دغه ډلې د کانونو د کیندنو او پر لویو لارو له سوداگرو د مالیاتو په اخیستو ځان مالي بسیاینې ته رسولی دی. د دې تر څنگ په راپور کې اندېښنه څرگنده شوې چې ښایي دغه مالي بسیاینه طالبان نور هم پیاوړي کړي او دا مسئله به د سولې روان بهیر ته زیان ورسوي. ناټو دغه راز وایي چې ښایي طالبان له نورو ترهگرو ډلو سره هم اړیکې پرې نه کړي.

د طالبانو د مالي امکاناتو په اړه گڼ راپورونه خپاره شوي دي، خو وروستی هغه چې د ناټو له محرمو اسنادو راوتلی، خورا مهم دی. په دغه راپور کې راځي چې طالبان هر کال میلیونونه ډالر عواید لري او دې مسئلې دغه ډله ورو ورو مالي استقلالیت او ځان بسیاینې ته رسولې یا نږدې کړې ده. د ناټو د راپور پر بنسټ د طالبانو د عوایدو تر ټولو سترې سرچینې، د کانونو استخراج، د نشه یي توکو قاچاق، له سوداگرو سره اړیکې او د بهرنیو مرستو ترلاسه کول دي. طالبان تر ټولو ډېر عواید د نشه یي توکو د قاچاق او کانونو د استخراج له درکه تر لاسه کوي. د ناټو په راپور کې راځي: ((طالبانو مالي او پوځي خپلواکي ترلاسه کړې او یا هم ترلاسه کولو ته یې نږدې شوي دي. مالي خپلواکي به طالبانو ته دا وړتیا ورکړای شي چې د حکومتونو او یو شمېر نورو هېوادونو د اتباعو ملاتړ ته له اړکېدو پرته، خپلې جگړې په خپله له مالي پلوه سمبال کړي)).

د راپور پر بنسټ د طالبانو د ۲۰۲۰ز کال عایدات ۱،٦ میلیارده ډالرو ته رسېدلي دي. د ناټو په راپور کې راځي چې دا شمېره د تېرو کلونو په پرتله لوړوالی ښیي او دا په دې مانا ده چې طالبان هڅه کوي ځان له مالي اړخه لا ډېر پیاوړی کړي. د سرچینې په خبره: ((طالبانو خپل مالي قوت د مخدره موادو د غیر قانوني سوداگرۍ، د کانونو د غیر قانوني کیندنې او د صادراتو د عوایدو له درکه زیات کړی. په تخمیني توگه یې په تېر مالي کال کې چې د ۲۰۲۰ ز کال د مارچ په ۲۰مه پای ته ورسېد، ۱،٦ میلیارده ډالر ترلاسه کړي دي)).

د ناټو په راپور کې راځي چې د طالبانو د عوایدو ټولولو ټول مسوولیت د دې ډلې د یوه لوړپوړي غړي او د طالبانو د پخواني مشر ملا عمر د زوی ملا یعقوب پر غاړه دی. راپور وایي چې ملا یعقوب د طالبانو مشرۍ ته د ځان رسولو په لټه کې دی، له همدې امله یې په نظامي او مالي برخه پوره کنټرول خپل کړی دی. سرچینه وایي چې ملا یعقوب ټولو هغو سیمو ته چې هلته کانونه او عواید دي، خپل کسان لېږلي دي او په پوره دقت عواید ټولوي چې همدې مسئلې طالبان ځان بسیاینې ته نږدې کړي دي.

ناټو وایي، پر پوځي او مالي برخه د ملا یعقوب کنټرول به د دې سبب شي چې نوموړی په راتلونکې کې د طالبانو په رهبرۍ کې ځانگړی ځای ولري. سرچینه کاږي چې ملا یعقوب د سولې د هوکړې ملاتړی دی، خو پر دې مسئله باور نشته چې د طالبانو په رهبرۍ کې به په بدلون د دې ډلې دریځ بدل شي او کنه.

ناټو د طالبانو مالي بسیاینه د سولې پر روان بهیر هم اغېزلرونکې بللې ده. په راپور کې راځي، طالبان چې څومره په مالي او نظامي لحاظ پیاوړي کېږي، دومره دوی د سولې په مذاکراتو کې د لوړ امتیاز غوښتنه کوي. سرچینه کاږي، که امریکایي ځواکونه له افغانستان وځي، نو طالبان به د افغان حکومت پر وړاندې خونړۍ جگړې وکړي او دوی اوس تر بل هر وخت د جگړې لپاره مالي او نظامي امکانات خپل کړي دي.

ناټو دا هم ویلي چې گواکي طالبان له ځینو هېوادونو مالي مرستې ترلاسه کوي چې په اړه یې دقیق معلومات نه دي ورکړي. مخکې داسې تورونه وو چې گواکي طالبان د ایران او روسیې ملاتړ له ځان سره لري او پاکستان خو بیا هغه هېواد دی چې په هر اړخیزه توگه د طالبانو ملاتړی او همکار بلل کېږي. ناټو د دې ټولو تر څنگ دا هیله څرگنده کړې چې افغان جگړه د خبرو له لارې حل شي او د ځینو ځانگړو شخصیتونو ځانغوښتنه او د واک تنده د جگړې د دوام سبب نه شي.

# د امریکا بندیزونو ته د ایران غبرگون؛

## ظریف: نړیواله ټولنه باید د امریکا د مخ پر زیاتېدونکې بدماشۍ مخ ونیسي

د واشنگټن او تهران ترمنځ د کړکېچ په دوام، امریکا یو ځل بیا په یو اړخیز ډول پر ایران د ملگرو ملتونو ټول بندیزونه ولگول.

متحده ایالتونو دغه پرېکړه له دې سره سره وکړه چې د بندیزونو د اغېزمنتوب په خاطر د امریکا نږدې اروپایي متحدان ورسره مخالفت لري. پر ایران د ملگرو ملتونو بندیزونه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو اعلان کړي او ویلي یې دي چې دا پر ایران ناځاپي کلک گوزار دی.

پامپیو دغه راز خبرداری ورکړی چې په دې برخه کې سرغړوونکي به د امریکا له اقدام سره مخامخ شي. نوموړي په یوه بیان کې ویلي، که د ملگرو ملتونو غړي دولتونه د دغو بندیزونو په عملي کولو کې پاتې راشي، امریکا به یې پر وړاندې له خپل ټول واکه استفاده وکړي.

په بیان کې راغلي، دا باید یقیني شي چې ایران د ملگرو ملتونو له منع شویو امتیازونو گټه نه شي ترلاسه کولای. د پامپیو په خبره، په راتلونکو ورځو کې به متحده ایالتونه یو لړ اضافي اقدامات هم اعلان کړي چې ورسره به پر ایران د ملگرو ملتونو د بندیزونو عملي کول پیاوړي شي او له مخې به یې له سرغړوونکو سره حساب کېږي.

په ورته وخت کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف ویلي، امریکایان قلدري یا بدماشي کوي او نړیواله ټولنه یې باید پر وړاندې پرېکړه وکړي چې څنگه یې د بدماشۍ مخه ونیسي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ ز کال کې په یوه اړخیز ډول د ایران له اټومي تړونه ووت. ټرمپ هغه مهال ایران د خپلو ژمنو پر ماتېدو تورن کړ او بیا یې بندیزونه پرې ولگول.

د ایران د اټومي تړون نور لاسلیک‌کوونکي هېوادونه بیا هڅه کوي چې دغه متزلزل تړون خوندي کړي او د واشنگټن دا کار یې رد کړی چې پر ایران دې د ځینو سرغړونو له کبله د ملگرو ملتونو بندیزونه ولگوي. د امریکا له دغه اعلان مخکې بریټانیا، فرانسې او جرمني د ملگرو ملتونو امنیت شورا ته ویلي چې پر ایران د بندیزونو معافیت به د ۲۰۲۰ کال له سپټمبر وروسته هم دوام کوي.

د دغو درې واړو هېوادونو لپاره د ملگرو ملتونو استازو د سپټمبر په ۱۸مه امنیت شورا ته په یوه لیک کې ویلي: «موږ نه سترې کېدونکې هڅې کړې چې د ایران اټومي تړون خوندي کړو، موږ دغه کار ته ژمن پاته کېږو.»

بلخوا چین او روسیه چې په امنیت شورا کې د ویټو حق لري، هم له امریکا سره په نوې پرېکړه کې همغږي نه دي او پر ایران د بندیزونو د بیا لگولو سره مخالفت لري. دغه راز د کړکېچ نړیوالې ډلې هم په یوه نوي تحلیل کې ویلي چې د ملگرو ملتونو امنیت شورا او دیپلوماتان به له دې کار سره په یوه بې پایلې بحث کې ښکېل شي. دوی ویلي، دا موضوع سیاسي اړخ لري او کومه منظمه مشروع پرېکړه نه ده.

## د کتـــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري

## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### درېیم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




د سیمې ځینو هېوادونو په خپلو منځونو کې د همکارۍ، همغږۍ او تفاهم رامنځته کولو په موخه د سیمه‌ییزو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړی دی، د شانگهای، سارک او ایکو سازمانونو هدف د غړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا او د گډ تفاهم او باور رامنځ ته کول دي. سیمه‌ییزو سازمانونو کې د افغانستان غړیتوب د افغانستان لپاره د دې زمینه برابره کړې چې د یادو سازمانونو له غړو هېوادونو سره خپلو همکاریو ته پراختیا ورکړي، د لیکنې په دې برخه کې به له ځینو سیمه‌ییزو سازمانونو سره د افغانستان اړیکې وڅېړو.

**۱ـ د شانگهای د همکاریو سازمان**

شانگهای یو ستر سیمه‌ییز سازمان دی او په سیمه‌ییزو سیاسي بدلونونو کې مهم رول لري او د ځانگړو امنیتي او اقتصادي موخو ترلاسه کولو لپاره رامنځ ته شوی دی چین او روسیې د شانگهای سازمان په جوړېدو کې مهم رول درلود او د دغه سازمان تر ټولو مهم غړي هېوادونه گڼل کېږي چین، روسیه، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان، ازبکستان، هند او پاکستان د شانگهای سازمان اصلي غړي هېوادونه، افغانستان، ایران، بیلاروس او منگولیا یې څارونکي هېوادونه، سریلانکا، ارمنستان، کمبودیا، نیپال، اذربایجان او ترکیه یې د خبرو شریکان دي . د شانگهای سازمان د جوړېدو اصلي هدف د غړو هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو او همکاریو پراختیا ده. شانگهای سازمان غړي هېوادونه په پوځي – امنیتي، اقتصادي، فرهنگي او د نشه یي توکو پرضد د مبارزې په برخو کې له یو بل سره همکاري کوي. شانگهای سازمان د نړۍ د بل هر سیمه‌ییز سازمان په پرتله ستر سازمان دی، د شانگهای سازمان غړي او څارونکي غړي هېوادونه د ټولې نړۍ د تېلو ۱۷.۵ سلنه، د طبیعي گازو ۵۰-۴۷ سلنه او د وگړو ۴۵ سلنه برخه جوړوي .

د امریکا شتون او سیاستونه له شانگهای سازمان سره چې مهم غړي یې روسیه او چین دي د افغانستان د همکاریو د پراختیا مخه نیسي، له شانگهای سازمان او د امریکا په مشرۍ له لویدیځې نړۍ سره په اړیکو او همکاریو کې توازن ساتل مهم دي، تر اوسه پورې شانگهای سازمان له افغانستان سره په کومه ځانگړې برخه کې مرسته او همکاري نه ده کړې او له افغانستان سره د مرستو لپاره کومه ځانگړې تگلاره هم نه لري .شانگهای سازمان کې د افغانستان غړیتوب له سیاسي او امنیتي پلوه مهم گڼل کېږي او د افغانستان حکومت کولای شي د شانگهای سازمان له لارې د یاد سازمان له غړو هېوادونو سره همکاریو ته پراختیا ورکړي د افغانستان پروړاندې د شانگهای سازمان پالیسي او سیاستونه تر ډېره حده پورې د افغانستان په تړاو د روسیې او چین په سیاستونو پورې تړلي گڼل کېږي، په تیرو وختونو کې شانگهای سازمان د افغانستان په چارو کې ډېر ښکیل نه و، خو اوس د یاد سازمان دوه مهم غړي هېوادونه روسیه او چین هڅه کوي څو په افغانستان کې خپلو اغېزو ته پراختیا ورکړي له روسېې، چین او د شانگهای سازمان له نورو غړو هېوادونو سره د همکاریو پراختیا به په سیمه کې د همکاریو له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي .

**۲- د مرکزي اسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکاریوپروگرام (کریک)**

د مرکزي اسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پروگرام یو له هغو مرسته کونکو بنسټونو څخه دی چې د مرکزي اسیا له هېوادونو سره یې د زېربناوو په برخه کې همکاري او مرسته کړې او هیله کېږي چې دغه سازمان به له افغانستان سره هم مرسته او همکاري وکړي . کېدای شي جاپان د مرکزي اسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکاریو له سازمان سره په زېربنایي برخه کې مالي مرستې وکړي او په دې توگه افغانستان له مرکزي اسیاسره ونښلوي . د مرکزي اسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکاریو پروگرام د ٦ اقتصادي سیمه‌ییزو دهلیزونو یا کروریډونو جوړول په پام کې لري .له دې دهلېزونو څخه یو یې له روسیې څخه تر ایران پورې رسیږي او له قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان ،ازبکستان او افغانستان څخه تېرېږي، پنځم دهلېز به له چین څخه پاکستان ته د تاجکستان او افغانستان له لارې وغزول شي، دغه دهلېزونه به د افغانستان له اقتصادي پرمختگ او د سیمه‌ییزې همکارۍ له پراختیا سره ډېره مرسته وکړي .

**۳ـ د ایکو د اقتصادي همکاریو سازمان**

ایکو سازمان یو مهم سیمه‌ییز سازمان دی چې لس غړي هېوادونه لري افغانستان، اذربایجان، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکیه، ترکمنستان او ازبکستان د ایکو غړي دي، چې گډ فرهنگي او تاریخي ارزښتونه او مشترکات لري . د ایکو سازمان مهمې موخې په علمي، فني، اقتصادي، اجتماعي، فرهنگي او مانوي برخو کې اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکول دي. ایکو سازمان کې غړیتوب له افغانستان سره مرسته کوي چې د نړۍ له نورو هېوادونو سره خپلو سوداگریزو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي او نړیوالو بازارونو ته لار پیدا کړي .له بل لوري د ایکو سازمان غړي هېوادونه کولای شي د افغانستان له موقعیت څخه استفاده وکړي . په ایکو سازمان کې د افغانستان غړیتوب د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا لپاره زمینه او شرایط برابر کړي . ایکو سازمان په ۲۰۰۳ زکال کې د سیمه‌ییزې سوداگرۍ د پراختیا په موخه یو هوکړه لیک وړاندې کړ ، چې له مخې به یې د سیمه‌ییزې سوداگرۍ پر وړاندې پرتې ستونزې له منځه تللې، د دې ترڅنگ ایکو د خپلو غړو هېوادونو ترمنځ د سوداگریزو اړیکو د پراختیا په موخه د سوداگرۍ او صنایعو گډه خونه رامنځ ته کړې ده.افغانستان ایکو سازمان کې له خپل غړیتوب څخه ډېره اغېزمنه استفاده نه ده کړې، افغانستان د سوداگرۍ پراختیا او نړیوالو مارکیټونو ته د لاسرسي په برخه کې د ایکو سازمان د غړو هېوادونو مرستواو همکاریو ته اړتیا لري .

**دوام لري...**

# تخار

حشمت الله نوري



تخار ولایت د هېواد له کرنیزو ولایتونو څخه دی، چې د کابل په ٤٠٠ کیلومترۍ کې موقعیت لري او په دویمه درجه ولایتونو کې راځي.

دا ولایت په شمال- ختیځ کې له بدخشان، په لوېدیځ کې له کندوز، په سوېل کې له بغلان او په شمال کې له تاجکستان سره نږدې پروت دی.

د دغه ولایت مساحت ۱۲٤ زره کیلومتره اټکل شوی دی. د هغې سر شمېرنې له مخې چې په دې وروستیو کې د مرکزي احصایې له لوري په ۱۳۸۸ کال کې شوې، په هر کیلومتر کې یې د وگړو شمېر ۷۱ تنه اټکل شوی دی.

د دغه ولایت اقلیم په اوړي کې نسبتاً گرم او په ژمي کې یخ دی. په ژمي کې یې د حرارت درجه له منفي ۲۱ څخه تر ۲۹ درجو او په اوړي کې یې گرمي له ۳۵ څخه تر ٤٠ پورې رسېږي.

ورځ یې د اوړي په جریان کې نسبتاً گرمه وي او هوا یې د لړم له لومړۍ تر غویي میاشتې یخه ده او واورې او بارانونه په کې کېږي . د دغه ولایت د اورښت کلنۍ اندازه ۲۲۹٠ ملي مترو څخه زیاته اټکل شوې ده.

**ولسوالۍ :**

یاد ولایت له مرکز پرته له ١٦ ولسوالیو څخه تشکیل شوی دی. د دغه ولایت مرکز تالقان ښار او ولسوالۍ یې: ورسج، فرخار، کلفگان، خواجه غار، خواجه بهاوالدین، بهارک، هزار سمچ ، دشت قلعه، ینگي قلعه، چاه آب، رستاق، بنگي، اشکمش، چال، نمک آب او درقد دي.

د تخار مېشت قومونه هم له ازبکو، تاجکو، پښتنو او هزاره گانو څخه عبارت دي، چې ډېری یې ازبکان او کم یې هزارگان دي.

**د اوبو بندونه**

سره له دې چې تخار رواني اوبه لري او کوکچه سیند ورڅه تېر شوی او له امو سیند سره نښلي، خو بیا هم په دغه ولایت کې سربند نشته. د تالقانو ښار اوسېدونکي له ډېزلي برېښنا گټه اخلي او حتی د یوه کیلو واټ په بدل کې ٦٠ افغانۍ ورکوي. ډېری تخاریانو په ولسوالیو او کلیو کې د اوبو وړوکي بندونه جوړ کړي او له دې لارې یې د خپلې اړتیا وړ برېښنا چمتو کړې ده.

ټاکل شوې وه چې په ۱۳۵٠مه لسیزه کې سردار محمد داوود خان د واکمنۍ پر مهال د دغه ولایت په کوکچه سیند د برېښنا یو بند جوړ شي، خو د ۱۳۵۷ کال د غویي له کودتاه را وروسته تر ننه پورې پرې هېڅ کار نه دی شوی.

**فرهنگ**

په دغه ولایت کې فرهنگي فعالیتونه له ۱۳۵۷ کال وروسته د تخارستان په نامه د یوې اونیزې په خپرېدو پیل شول، خو دا اونیزه هم د شته ستونزو له امله په یوه میاشت کې دوه یا درې ځله خپرېده. د دې خپرونې د امتیاز خاوند د اطلاعاتو او کلتور ریاست و، چې اوسمهال په میاشت کې یو ځل خپرېږي.

د تخار اوسېدونکي له چاپي خپرونو سره زیاته لېوالتیا لري، په ځانگړې ډول په وروستیو ۱۲ کلونو کې په دغه ولایت کې د کوکچه، بستر دریاچه، د تخارستان ځوانانو ټولنه، اونیزې، میاشتنۍ او ډېرې مجلې د خلکو تر گوتو رسېدلې دي.

همدارنگه زیاتې رسنۍ لکه تصویر، طلوع افتاب، اینه ناب، خورشید، جوان ورځپاڼه او لمر اونیزه چې په تېر کې یې فعالیت درلود او همدارنگه غږیزې او انځوریزې رسنۍ په دغه ولایت کې فعالیت کوي.

د دې تر څنگ، ډېر کتابتونونه او بېلابېل کورسونه هم په دغه ولایت کې فعال دي، چې ځوانان او نجونې په کې روزنه تر لاسه کوي. سیمه ییزه موسیقي هم د دغه ولایت د کلتور یوه لرغوني برخه ده.

**تاریخي آبدې**

تخار د هېواد له تاریخي او لرغونو ولایتونو څخه دی، چې لرغونوالی یې د مقدوني سکندر زمانې ته رسېږي. یوناني جغرافیه لیکوونکو(استرابو) او(بطلیموس) په خپلو اثارو کې له نن نه نږدې ۲۳۰٠ کاله وړاندې د امو سیند له سکندریې یا اوکسیانا سکندریې څخه یادونه کړې. خو تر وروستیو پورې معلومه نه وه چې د مقدوني سکندر دغه افسانوي ښار به د اسیا د کوم هېواد په خاوره کې خښ او ورک شوی وي.

کلونه وشول چې نړیوال لرغون پېژندونکي او تاریخ پوهان په ځانگړي ډول اروپایان په دې لټه کې وو، چې ختیځ ته د سکندر مقدوني د پښو تللې خاپونه ومومي. تر دې چې یو ستر راز را لوڅ شو او د سکندر مقدوني معمایي ښار هماغه د امو سیند سکندریه وخوت، چې د افغانستان په شمال- ختیځ یاني نننی تخار کې د پېړیو پېړیو تر گرد لاندې وموندل شو، چې په کشف سره یې گڼې تاریخي او لرغوني معماوې حل او د گران افغانستان د مدنیت په تاریخي زاویو یوه نوې رڼا پرېوته.

د ای خانم تاریخي ساحه هم په دشت قلعه ولسوالۍ کې د امو او کوکچې سیندونو د پریکون په ساحه کې موقعیت لري. ای خانم د باختري یونان د زمانې ملکه وه، چې په دغه سیمه کې یې سلطنت کاوه.

خو دغه ساحه د کورنیو جگړو پر مهال په ۱۳۷٠یمه لسیزه کې د لاسوهنې سبب وگرځېده او کره معلومات نشته، چې له دغې غونډۍ نه څنگه اثار لوټل شوي .

څو کاله وړاندې له ای خانم غونډېو څخه یو څلور خانه یې ډېرین پشقاب او ۱۹۵ لرغوني سکې هم د غیر قانوني کیندنو په سبب تر لاسه شوې وې، چې قاچاق وړونکو یې بهر ته د وړلو نیت درلود، خو د پولیسو لخوا تر لاسه او یو کس ونیول شو.

دغه اثار د اطلاعات فرهنگ ریاست ته تسلیم او له نښانو څخه څرگنده شوه، چې دغه اثار په باختري دورې ( ۲ مخ زېږدیزې پېړۍ) پورې اړوند دي.

خواجه بهاوالدین، خواجه خضر، حضرت(واقف)، خواجه چنگال، پیر فرخار او قلعه ذوبین د دغه ولایت له لرغونو او تاریخي سیمو څخه دي .

**موزیم**

په تخار ولایت کې کوم موزیم نشته، تر اوسه چې په دغه ولایت کې کوم تاریخي اثار تر لاسه شوي، نو اطلاعاتو کلتور ریاست ته تسلیم او د کابل موزیم ته لېږدول شوي دي.

**مشاهیر**

په دغه ولایت کې اوس هم د پخوا په څېر ځیني فرهنگي او علمي څېرې شته، چې د دغه ولایت فرهنگي هویت څرگندوي.

د بېلگې په ډول یې له سر معلم طارق، ډاکټر سیدحسین شهید، ملا عبدالودود شهید، حسین گلفگانی، قاري امیر او نورو څخه یادونه کولی شو.

**رسنۍ**

په تخار ولایت کې رسنیزو فعالیتونو د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ پرمختگ کړی او ډېری انځوریزې، غږیزې او چاپي رسنۍ په دولتي او غیر دولتي چوکاټ کې فعالې شوې، چې شمېر یې له ۲٠ اوړي.

د سردار محمد داوود خان د حکومت پر مهال په ۱۳۵٠ کال کې په لومړي ځل په دغه ولایت کې د تخارستان په نامه اونیزه د اطلاعات کلتور ریاست په اډانه کې چاپ شوه او تخار ملي تلوېزیون هم په ۱۳۵۷ کال کې خپلې خپرونې پیل کړې.

**پوهنه**

د پوهنې بهیر هم په دغه ولایت کې د پرمختگ په حال کې دی او په دغه ولایت کې ٦٠٠ ښوونځي شته، چې تر ۳٤٠ زرو زیات زده کوونکي په کې زده کړې کوي، چې ۱٤۵ زره یې نجونې دي.

په دغه ولایت کې یو دارالعلوم، پنځه دارالحفاظونه، په ولسوالیو کې د ښوونکو روزنې ۱۵ الحاقیې (څانگې)، په تالقان ښار کې د ښوونکو روزنې یوه موسسه او څو ښځینه او نارینه دیني مدرسې فعالیت کوي.

**صنعت**

په تخار ولایت کې د صنعتي تولیداتو شرکتونه او کمپنۍ نشته؛ خو د دغه ولایت خلک لاسي صنایعو ته سم لاسرسی لري، چې کولی شو له دې ډلې د حیواناتو له پوستونو، مرۍ اوبدنې، د حیواناتو له پوست نه اوبدل شوي توکي او خامک گنډنه یاد کړو.

د دشت قلعه ولسوالۍ اوسېدونکي د بالاپوشونو، خولیو او پشمونو په اوبدلو بوخت دي او خپل توکي بازار ته د پلور لپاره وړاندې کوي، خو دغو صنایعو اوسمهال خپل پخوانی مارکیټ له لاسه ورکړی دی.

په دغه ولایت کې د ښځو لاسي صنایع د ستاینې وړ او هر کال د ملي سوداگرو د هڅونې او بازار موندنې په موخه د لاسي صنایعو بازارونو ته وړاندې کېږي، څو ملي سوداگر د بازارموندنې لپاره وهڅول شي.

**کرنه**

تخار د هېواد یو کرنیز ولایت دی، چې د خلکو اقتصاد یې تر ډېره په کرنه، بڼوالۍ او مالدارۍ ولاړ دی. د دغه ولایت ۱۳٠ زره هکټاره ځمکه اوبیزه او ۳٠٠ زره هکټاره للمه ده، چې زیات وخت په دوو فصلونو کې کرل کېږي. عمده محصولات یې وریجې، غنم، وربشې او جوار دي. د دغه ولایت بڼونه هم له زینتي او میوه لرونکو ونو لکه مڼو، الو، گیلاس، ناک، شفتالو، زردالو، انگورو، خربوزې، هندوانې او نورو څخه جوړ شوي دي، چې له تخار پرته نورو ولایتونو ته هم استول کېږي.

په هېواد کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت په راتگ او ځینو مرسته ورکوونکو موسسو او کریم اغاخان د پراختیایي دفتر( ایکیدن) په مرسته د دغه ولایت کرنیز صنعت د پام وړ وده وکړه او اوسمهال په دغه ولایت کې ٢٤ بڼونه شته چې هر یو یې ۵٠ جریبه ځمکه نیسي. له همدې اړخه د دې ولایت اوسېدونکي د ښې اب هوا په درلودلو سره د دغو بڼونو کلنیو محصولاتو ته خوشبین دي.

د تخار ډېری ولسوالۍ رواني او سرشاره اوبه لري، چې له امله یې په فرخار او اورسچ ولسوالیو کې مالدارۍ هم ښه وده کړې او مالداران یې ډېر وختونه خپل مالونه له هېواده بهر پاکستان یا تاجکستان ته وړي.

**ورزش**

ورزش هم د هېواد دنورو ولایتونو په څېر په وروستیو کې په تخار ولایت کې ښه وده کړې ده. په تېر کې پهلوانۍ، تېرې اچونې او د غرسي په نامه سیمه ییز ورزش په دغه ولایت کې ښه وده کړې وه، خو په دې وروستیو کې د تکواندو، کاراته، جودو، کانگفو او والیبال، کرکټ، سامبو، زورخانه یي، کورش، پینگ پانگ او نورو په څېر رزمي لوبو د خلکو منځ کې مینه وال پیدا کړي دي.

همدارنگه په ښځینه او نارینه ښوونځیو کې هم ورزش وده کړې او ډېری زده کوونکي په خالي وختونو کې په ورزش بوخت دي. په تخار کې له ۲۲ زیات ورزشي فدراسیونونه شته، چې ورزشکارانو یې له څو کلونو راهیسې په کورنیو او بهرنیو سیالیو کې اتلولۍ، د سرو، سپینو زرو او برونزو مډالونه تر لاسه کړي دي. د تخار ورزشي امریت د ورزش په برخه کې د ورزشي منظمو ځایونو کمښت، د ځوانانو د ورزشي تمرینونو پر وړاندې یوه ستره ستونزه گڼي او د منظمو لوبغالو او جمنازیمونو غوښتنه کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٨٠ |
| € | ٨٩,٩٠ |
| Rp. | ٤٦٤ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١٠,٥٠ |
| £ | ٩٨,٣٠ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166



لیکنه: ډېوه
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

# موږ ټول د سولې تږي یو

د ۲۰۰۱ م کال د سپټمبر په اوومه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ د یو پرېکړه لیک په تصویبولو سره تایید کړه، چې له ۲۰۰۲ م کال وروسته به هر کال د سپټمبر ۲۱مه د سولې نړیوالې ورځ په نوم وي. په یاد پرېکړه لیک کې درج شوې چې د سولې نړیواله ورځ باید په ټوله نړۍ کې د اوربند او د زور زیاتي د ختمېدو ورځ واوسي. د ټولو هېوادونو له خلکو پکې غوښتنه شوې چې په دې ورځ دښمنۍ، بریدونه او جګړییز فعالیتونه متوقف او یا ختم کړي.

د جګړې تر پیل وروسته د جګړې درول او د سولې راوستل اسانه کار نه دی، خو د سولې مشعلونه او ډیوې د انساني تمدنونو په شان هېڅکله نه دي بې رڼا شوي، تل روښانه او ځلانده ساتل شوي دي.

د انسانانو په تاریخ کې د جګړو پېښې کمې نه دي، د شلمې پېړۍ په اوږدو کې د دوو نړیوالو جګړونو د ناخوالو کیسې لا هم زموږ په ذهنونو کې شته. هغه غمونه، کړاوونه او دردونه لا هېر شوي نه دي. د دویم نړیوال جنګ په وخت په اسیا، اروپا او افریقا کې د فاشیزم ضد حیرانوونکي جګړونه شوې، چې په ټوله نړۍ کې مبارزینو د عدالت او د خپلو حقه حقوقو د تر لاسه کولو لپاره مبارزې کړې دي. په اتفاق، اتحاد او په ګډه یې له تیري کوونکو سره مقابله کړې ده او په سخت حال او وضعیت کې یې د سولې هیلې پر باور ټینګار کړی دی. اویا کاله مخکې انسانانو په دوو نړیوالو جګونو کې ډېر څه له لاسه ورکړل، خو برعکس یې هېڅ هم نه دي تر لاسه کړي. پر څه باید ټینګار وکړو؟ له څه سره مخالفت وکړو؟ څنګه کولی شو د ورته تراژیدیو د تکرار مخه ونیسو؟

د ځوانانو راتلونکې به څنګه وي؟ دوی څنګه کولی شي په سوله کې خپل ارمانونه او هیلې ولټوي او ورته ورسیږي؟ د ښکلي ژوند له نعمتونو، رنګینیو څنګه خوند او لذت اخیستلی شي؟ دا هله شوني او ممکنه ده چې چېرې جنګ نه وي، هلته سوله وي، وررولي وي، ارامي وي، د خدای په راکړو نعمتونو شکر ایستل وي او ترې په ښه توګه ګټه اخیستل کېږي.

هغه چې په جنګونو کې ګډون ته اړ شوي او د جنګونو سختۍ او غمونه یې لیدلي؛ سولې او امن ژوند ته تر هرڅه زیات ارزښت ورکوي. د ملګرو ملتونو د یونیسکو سازمان د عمومي مقر ودانۍ په مخکې یوه ډبرینه کتیبه ده، چې په بېلابېلو ژبو ورباندې دا جمله حک شوې ده: «جګړې د خلکو له نظریو را پیدا شوې، باید د خلکو په نظرونو کې د سولې ساتلو لپاره ورته کلک دیوالونه جوړ شي.»

### په افغانستان کې سوله د هر چا او ټولو ګډه هیله ده

په دې وروستیو دوو کلونو کې په افغانستان کې څو د پام وړ تاریخي شېبې رامنځ ته شوې. د ۲۰۱۸ م کال په پای کې امریکا او طالبانو رسمي تماسونه پیل کړل، چې د سولې خبرې اترې یې ګام په ګام تر سره کړې. د ۲۰۱۹ م کال د فبرورۍ په ۲۹مه د دواړو خواوو تر منځ د قطر عربي هیواد پلازمېنه دوحه کې پر هوکړه توافق او لاسلیک وشو. په افغانستان کې د امریکا لخوا پیل شوې نولس کلنې جګړې د پای موندلو لپاره ورسره نسبي لاره هم هواره شوه. د همدې موخې لپاره په افغانستان کې میشت د امریکایي پوځونو پړاو په پړاو ایستلو مهالوېش هم ترتیب شو. د زیاتو سیاسي شنونکو په اند، په افغانستان کې رښتیني او دایمي سولې ته رسېدل لا اوږدو پړاوونو ته په لوړه ژوره لاره کې سخت مزل کولو ته اړتیا لري. د افغانستان حکومت باید له دې طلایي فرصت څخه د خپل ولس او هیواد د بقا لپاره په اعظمي توګه استفاده وکړي. له طالبانو سره د پخلاینې خبرې اترې تر وروستي حده او حل پورې پر مخ یوسي او د یو ګډ جوړجاړي او موافقې ډالۍ ټولو ته وړاندې کړي.

له څو میاشتنې ځنډ وروسته د افغانستان د حکومت او طالبانو تر منځ مخامخ خبرې بالاخره د قطر په پلازمېنه دوحه کې پیل شوې. که څه هم د دواړو خواوو تر منځ توپیرونه او اختلافونه شته، خو د دغو مذاکراتو پیل د سولې رامنځ ته کولو په لاره کې یو تاریخي ګام دی او د سولې په اړه د خلکو هیلې ورسره زیاتې غوړېدلې دي.

د یوې شمېرنې له مخې، د ۲۰۱۹ م کال له پیل تر نومبر میاشتې پورې د افغانستان په جګړه کې د افغان وژل شوو پوځیانو شمېر له ٦٤ زرو اوښتی دی. د ملکي مرګ ژوبلې، ځاني او مالي زیانونو رښتینی شمېر له حسابه وتلی دی. د څو لسیزو جګړو په ترڅ کې ځینو سیمو او عامو وګړو ته د مرګ ژوبلې پېښې هره ورځ تکرارېږي. هر کور، کلی او سیمه د خپلو نږدې خپلوانو او عزیزانو په ویر اخته شوي او له بلې بدې ناوړه خونړۍ پېښې څخه په وېره او اندېښنو کې د ژوند سختې شپې ورځې سبا کوي. له دې حالت څخه د ځان ژغورنې او ورته د پای ټکي اېښودلو لپاره د بین الافغاني مذاکراتو غونډه تر ټولو ارزښتناک او غوره فرصت دی. کله چې د طالبانو او امریکا، د افغان حکومت او طالبانو تر منځ خبرې پیل شوې، د خلکو په زړونو کې د سولې مړاوې هیلې دوباره تازه او غوړېدلې دي. د بین الافغاني مذاکراتو په لاره کې ښایي ستونزې ډېرې وي، خو سیاسي لاره لا تر اوسه د جنجالونو حلولو لپاره یوازېنۍ هغه ښه انتخاب بلل شوی دی.

په افغانستان کې له بده مرغه جنګونه له څو لسیزو راهیسې دوامداره پاتې شوي دي، خلک له جنګونو کرکه لري او ستړي دي. اټکل کېږي چې د بین الافغاني مذاکراتو لاره به دومره اسانه او بې جنجالونو نه وي، خو سوله د افغانانو ستره او یوازینۍ هیله ده. بین الافغاني مذاکرات باید د سیاسي حل پر لوري، د افغانانو تر لارښوونې لاندې او ټولشموله موخو پر محور باندې ولاړ اوسي.

زه نږدې له شلو کلونو راهیسې ان چې په پوهنتون کې د پښتو ژبې پر زده کړه بوخته وم، بیا د خپلو کارونو په ترڅ کې، هره ورځ د افغانستان حالت او پېښې له نږدې څارم او ګورم. په دې ترڅ کې مې ډېر ښه افغان دوستان موندلي دي. زه یوه چینایۍ یم په چین کې ژوند کوم او په دې ښه پوهېږم چې چین د افغانستان د یو ګاونډي او ښه دوست په توګه د زړه له کومې هیله لري، چې په افغانستان کې رښتینې، دایمي او سرتاسري سوله رامنځ ته او ټینګه شي. له اقتصاد نیولې بیا تر امنیت پورې ورسره هرڅه ښه پرمختګ وکړي. زه په دې پوهېږم چې افغانستان د طبعي غني سرچینو او خوندورو وچو او تازه میوو لرونکی بډایه هیواد دی. د خپلو دې سرچینو په مټ کولی شي ژر پر خپلو پښو ودرېږي، د سولې تږي افغان ولس تنده ماته کړي، دا هرڅه په کمه موده کې شوني او امکان لري. د دغه هېواد دروازې به د نړۍ پر مخ خلاصې وي، خپل ښه غوره کانې او زراعتي پیداوار به نه یوازې نړۍ ته؛ بلکې تر ټولو نږدې چین هیواد ته صادر کړي. لارې، سړکونه او ریل لارې شبکې به یې له سیمې او نړۍ سره پیوسته شي او په دې توګه به ډېر پراخ سوداګریز فرصتونه جوړ او رامنځ ته کړي. بېوزلي او فقر به له منځه لاړ شي او د نېکمرغه، شتمن او ښکلي ژوند جوړېدو په لوري به ګامونه واخلي.

دا ښکاره ده چې د یادو مذاکراتو ښکېلې دواړې خواوې یو د بل ورونه دي، د یو هیواد وګړي دي، دوی د زیاتو ستونزو په لرې کولو سره نن سبا د خبرو میز ته ناست دي او د افغان سولې بهیر نوې پاڼه یې پرانیستې ده. له تاریخي واقعیتونو څخه یو ځل بیا څرګندېږي چې د جنګ او زور له لارې د افغان مسئلې حل ناشونی دی، د سولې کلي او یوازینۍ د حل لار خبرې اترې او د یو بل منل دي.

هیله لرم چې دواړې خواوې د خبرو اترو له لارې د ټولو د خوښې وړ یو ټولشموله سیاسي چوکاټ رامنځ ته کړي، په ګډه پر ترهګرۍ او د سولې پر دښمنانو باندې سخت ګوزارونه وکړي. د سولې او دوستۍ پراخې بهرنۍ تګلارې جوړې او پلې کړي او خپل هېواد د سولې پرمختګ جامې په اغوستو سره لا ښکلی کړي.

په افغانستان کې سوله نه یوازې د افغانانو امید دی، بلکې د سیمه ییزو هېوادونو او نړیوالې ټولنې په ګټه ده. هیله ده چې بین الافغاني مذاکرات ښه پیل وي او ښې پایلې ولري.

## بهرنیو چارو وزارت: طالبان دې د سولې خبرو کې د نېک نیت لپاره بشري اوربند ومني

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت پر طالبانو غږ کړی چې د سولې خبرو لپاره نېک نیت وښيي او د تاوتریخوالي له کمولو سربېره، بشردوستانه اوربند ته غاړه کېږدي.

یاد وزارت دا څرګندونې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې مذاکراتو په اړه د امنیت شورا هغه اعلامیې ته په غبرګون کې کړې چې ویلي یې دي، د مذاکراتو له لارې په افغانستان کې د سیاسي جوړ جاړي او سولې بهیر څخه پراخ نړیوال ملاتړ شته.

بهرنیو چارو وزارت وایي، افغان دولت یوې تلپاتې سولې ته بشپړ ژمن دی او غواړي چې د افغانانو ترمنځ او د افغانانو په مشرۍ د سولې د هر اړخیزو خبرو په وسیله دې موخې ته ورسېږي.

دغه وزارت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لهخوا د خپرې شوې اعلامیې په ځواب کې ویلي، د ملګرو ملتونو لهخوا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو د پیل له ملاتړې دریځه ستاینه کوي. دا په داسې حال کې ده چې ملګرو ملتونو د جمعې په ورځ په یوه اعلامیه کې وویل، دوی د افغانستان د شخړې د سولهییز حل لپاره د سولې له خبرو څخه هرکلی کوي او ښکېل لوري باید تاوتریخوالی را کم او اوربند وکړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګران هېواد ویلي، افغان دولت د تلپاتې سولې راوستو ته ژمن دی چې د یوې هر اړخیزې پروسې له لارې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت وشي او د یو دایمي او جامع اوربند لامل وګرځي.

هغه زیاته کړې: «د افغانستان اسلامي جمهوریت او د بهرنیو چارو وزارت د ملګرو ملتونو امنیت شورا غړیو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان جمهوري دولت سولې ته ژمن دی او د افغانانو په مشرۍ او رهبرۍ د سولې بهیر د بریا لپاره خپلې ټولې هڅې کوي.»

بهرنیو چارو وزارت زیاتوي، افغان حکومت د امنیت شورا او د خپلو نړیوالو ملګرو سره یو ځای پر طالبانو غږ کوي چې نېک نیت څرګند کړي، تاوتریخوالی کم او بشردوستانه اوربند ته په غاړه اېښودلو سره خبرو ته د باور فضا رامنځته کړي.



په ورته وخت کې د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم په خپله ټویټرپاڼه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له اعلامیې په هرکلي سره لیکلي: «د مذاکراتو له لارې په افغانستان کې د سیاسي جوړ جاړي او سولې بهیر څخه پراخ نړیوال ملاتړ موجود دی.»

خو له دې هیلو سره سره لا هم د افغان حکومت او د طالبانو د مرکچي پلاوو ترمنځ رسمي مذاکرات نه دي پیل شوي. د ملي مصالحې عالي شورا ویاند فریدون خوځون ویلي، لا هم پر هغې تګلارې بحث کېږي چې د سولې د مخامخ مذاکراتو له پیل وړاندې باید چمتو شي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۳۱مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۲۱مه | ۵۹۷یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۱ | ۲۹ |
| ۱۲ | ۱۸ | ۱۷ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۷ | لمر ختل ۰۵:٤۰ | ماسپښین ۱۱:٤۷ | مازیګر ۰۳:۱۵ | ماښام ۰۵:۵۳ | ماخوستن ۰۷:۱۷

## نړۍ



### د امریکا بندیزونو ته د ایران غبرګون؛

## ظریف: نړیواله ټولنه باید د امریکا د مخ پر زیاتېدونکي بدماشۍ مخ ونیسي

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۳۱ میلیونو واوښتې



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۳۱ میلیونو اوښتې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۹٦۲ زره او ۱۸۸ کسان مړه شوي او نږدې ۲۳ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا وبا د ډېرو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امریکا کې د یاد ویروس مثبتې پېښې نږدې اوو میلیونو ته رسېدلي او ۲۰۳ زره او ۸۵۱ امریکایان یې مړه کړي دي. له امریکا وروسته هند، برازیل، روسیه او پېرو په ترتیب سره دویم، درېیم، څلورم او پنځم هغه هېوادونه دي چې د دغه ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

د راپورونو له مخې، دا مهال د امریکا په مېنېسوټا، جنوبي داکوتا او ځینو نورو ایالتونو کې د کرونا له کبله د مړینې شمېرې مخ پر ډېرېدو دي. په همدې حال کې د امریکا روغتیایي چارواکو امریکایانو ته کلکه سپارښتنه کړې چې سږکال باید د زکام واکسین وکړي. زکام یو موسمي مرض دی او واکسین یې شته، خو کروناویروس، چې دا مهال په نږدې ټولې نړۍ کې خپور دی، تر اوسه واکسین نه لري.

د امریکا د جورج واشنګټن په پوهنتون کې د ساري ناروغیو د څانګې مشر ګبري سایمن واشنګټن پوسټ ته ویلي چې زکام او کروناویروس ته د ماتې ورکولو ګډ فکر ۲۰۲۰ «یو ستونزمن کال» ګرځولی دی.

## تازه نظرپوښتنه: ۷۸ سلنه امریکایان د دغه هېواد پر روان ټاکنیز بهیر بې باوره دي

د یوې تازه نظرپوښتنې پایلې په ډاګه کوي چې اکثریت امریکایان پر دې باور دي چې ښایي د متحده ایالتونو راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې عادلانه، شفافې او ازادې نه وي. یاهو نیوز په امریکا کې د روانو ولسمشریزو ټاکنو په اړه نظرپوښتنه کړې ده. په دې نظرپوښتنه کې یوازې ۲۲ سلنه وګړو ویلي چې راتلونکې ټاکنې به عادلانه، شفافې او ازادې وي. پاتې لوړ اکثریت امریکایان پر دې باور دي چې ښایي ټاکنې له فساد، فشار او بې عدالتۍ ډکې وي. نظرپوښتنه دغه راز زیاتوي چې لوړه سلنه امریکایانو د ټاکنو پر بهیر او ولسواکۍ خپل باور بایللی دی او له نظرپوښتنې ښکاري چې دوی د راتلونکي حکومت په ټاکلو کې پر خپل رول ډاډه نه دي. یاهو نیوز د یو بل څه په اړه هم وړاندوینه کوي او وايي، دا چې دومره لوړه سلنه خلک د ټاکنو پر بهیر بې باوره دي، نو له همدې ښکاري چې خلک به د راتلونکو ټاکنو پایلې ونه مني او ښايي په امریکا کې لویې ستونزې رامنځته کړي. یاهو نیوز دا نظرپوښتنه داسې مهال خپروي، چې ورمه ورځ د امریکا د څېړنو فدرالي اداري هم اندېښنه ښودلې وه چې د دغه هېواد راتلونکې ټاکنې ښايي په امریکا کې کورنۍ جګړې ته لاره هواره کړي.

## نمایندگان احزاب سیاسی: جوانب مذاکره کننده بخاطر حفظ منافع علیای کشور به موافقه برسند



نمایندگان احزاب سیاسی افغانستان از هیأت مذاکره کننده خواستند که موانع از سر راه ادامه گفتگوهای بین الافغانی از میان بردارند، و بخاطر حفظ منافع علیا وتامین صلح وثبات دایمی درکشور به موافقه برسند.

این مطلب را نمایندگان احزاب سیاسی افغانستان، زیر نام «شورای مرکزی جبهه مشترک صلح و وحدت ملی افغانستان» که متشکل از علمای دین، دانشمندان و نویسندگان، نخبه های سیاسی، بزرگان اقوام، فعالان زن و جوانان می باشد، دیروز در نشست خبری درکابل بیان داشتند.

گل رحمان قاضی رئیس جبهه مشترک صلح و وحدت ملی افغانستان دراین نشست گفت که برنامه دیروز به هدف سرعت و صحت در مذاکرات که میان افغانان است، راه اندازی شده است. وی می گوید که خواست اشتراک کنندگان این نشست از هر دو طرف مذاکره کننده این است که هرچه زودتر بخاطر منافع علیا و صلح دایمی در کشور به موافقه برسند.

قرار بود گفتگوهای صلح میان افغانان، حدود ده روز بعد از امضای موافقت نامه میان طالبان و ایالات متحده امریکا که در دهم حوت سال ۱۳۹۸ در قطر امضا شد، آغاز شود، اما مخالفت ها در مورد رهایی ۵۰۰۰ زندانی طالبان و یک هزار زندانی حکومت، حدود شش ماه به درازا کشید، و سرانجام پس از رهایی این زندانیان با اشتراک هیات های دو طرف (دولت افغانستان و طالبان) و ده ها تن از نماینده گان کشورها و سازمان های بین المللی در تاریخ (۲۲ سنبله ۱۳۹۹) در قطر آغاز شد.


## ژوند

## پرمختللی؛ خو ارزان بیه ځیرک موبایل




د شیاومي کمپنۍ یوه څانګه چې اوس د پوکو په نوم په جلا کمپنۍ بدله شوې، نوی پیاوړی خو ارزانه بیه ځیرک موبایل پوکو ایکس۳ این ایف سي خپلو مینه والو ته معرفي کړی دی. دغه ځیرک موبایل د نورو کمپنیو پیاوړو ځیرکو موبایلونو ته ورته ځانګړنې او وړتیاوې لري. پر دغو پیاوړو وړتیاوو سربېره، د دغه ځیرک موبایل بیه ډېره ټیټه ټاکل شوې ده. پوکو ایکس۳ کې د کوالکام سنپ ډراګن ۷۳۲ ډوله پروسېسر، ٦ ګېګابایټ رم او ٦۴ – ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا درلودونکی دی. دغه ځیرک موبایل ٦,٦۷ انچه اېل سي ډي ډوله فول اېچ ډي ریزلوشن لرونکې مخپاڼه لري چې ۱۲۰ هرتز ریفرش ریټ او ۲۴۰ هرتز ټچ سمپلېنګ ریټ څخه ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل مختلفو هېوادونو کې خرڅلاو ته وړاندې شوی او د ٦ ګېګابایټ رم او ٦۴ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه یې ۲۲۹ یورو او د ٦ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه یې ۲٦۹ یورو ټاکل شوې ده.

## دغه چارې هم په سپما کې راځي




د ډېرو کسانو لپاره د کور کرایه تر بل هر لګښت زیاته او سخته وي. خو که په همدې برخه کې هم یو څه صرفه وکړئ، کېدای شي په میاشتنې ډول مو د سپما کچه ډېره لوړه شي او په راتلونکي کې د خپل کور څښتنان شی. سمه ده چې له یوه ځای څخه بل ځای ته کډه وړل هم سخت او ګران پرېږي وځي، خو ډېر کله ګټه په تاوان کېږي. تاسو به لیدلي وي چې ډېری کسان هره میاشت بې له دې چې پوښتنه وکړي او یا یې پر کمولو فکر وکړي، یوه زیاته اندازه پیسې د برېښنا د لګښت له کبله پرېکوي. خو دا ډېره اسانه او د دوی په واک کې خبره ده چې د خپلې برېښنا میاشتنې کارونه راکم کړي، سپما وکړي څو یې بېل کم راشي. موږ ډېر کله ځینې کوچنې لګښتونه بابېزه ګڼو، خو که په میاشتنې ډول همدا کوچنې کوچنې لګښتونه را ټول کړو، ډېرې زیاتې پیسې کېږي چې که سپما شي، موخې ته رسېدل درته اسانه کېږي.

عزیزي بانک
Azizi Bank




د (ATM) یا صرافۍ خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخېستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیسټم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پېرودونکي چې له دغه سیسټم سره تړلې وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.

همدارنګه د عزیزي بانک محترم پېرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په ګټنې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیسټم سره نښلول شوي دي.

عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پېرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af 1515